# له کاربن مونو اوکسایډ او ګاز څخه د ځان خوندیتوب

## کاربن مونو اوکسایډ څه شی دی؟

کاربن مونو اوکسایډ یو ډول بې رنګه، بې بویه او بې خونده مسموم کوونکی ګاز دی چې (د ګازو، تېلو، لرګي، پېټرولو او د ډبرو د سکرو په ګډون) د کاربن لرونکو سونګ توکو د نابشپړ سوځېدو له امله رامنځ ته کېږي.

له دې امله چې کاربن مونو اوکسایډ په سترګو نه لیدل کېږي، خوند یا بوی نه لري، ډېر خطرناک ګڼل کېږي او په ځینو شرایطو کې کولای شي ژر او له مخکینۍ خبرتیا پرته ځوک ووژني.

### په کاربن مونو اوکسایډ باندې د مسموم کېدو نښې نښانې



سردردي — کانګې — سرګیچي — نفس تنګي

لوېدل — د شعور له لاسه ورکول

### د کاربن مونو اوکسایډ نښې نښانې

- په ډېری ګرموونکو وسیلو کې د اور لمبې باید ځرګندې او آبي وي.
- ژېړې یا نارنجي لمبې باید د یوه متخصص کس له خوا وکتل شي.
- د وسایلو لکه کېدو، دودګن کېدو یا د رنګ تغیر ته متوجه اوسئ.
- د تودوخې تراکم ته متوجه اوسئ.
- آزمایښتي څراغ اکثراً ګل کېږي.

که اندېښنه لرئ چې په کور کې مو کاربن مونو اوکسایډ شتون لري، یا مو د کاربن مونو اوکسایډ د مسموم کېدو نښې نښانې ولیدې، په سملاسي ډول د ګازو د بېړنیو خدماتو له ملي اداري سره په **0800 111 999** شمېره اړیکه ونیسئ.

# له کاربن مونو اوکسایډ څخه د خوندیتوب لارې چارې

- د ډبرو د سکرو، تېلو او طبیعي ګازو وسایل په کلني ډول د مسلکي متخصص په واسطه چک کړئ
- د کاربن مونو اوکسایډ د خطر زنګ ولګوئ او همېشه د تولیدوونکي لارښوونې تعقیب کړئ
- خپل د کاربن مونو اوکسایډ د خطر زنګ همېشه د تولیدوونکي د لارښوونو مطابق چک کړئ او د اړتیا په صورت کې د زنګ بېټرۍ/د خطر زنګ بدل کړئ
- د وسایلو لپاره د مناسبې تهویې له شتون څخه ځان ډاډمن کړئ او د هوا مدخل مه بندوئ
- که تاسو په کاربن مونو اوکسایډ یا د کاربن مونو اوکسایډ د خطر په زنګ باندې مشکوک یاستئ، وسایل ګل کړئ او په سملاسي توګه د مرستې غوښتنه وکړئ
- هېڅکله باربیکیو یا د انتقال وړ پخوونکي وسیله له مناسبتې تهویې پرته بندې فضا ته مه راوړئ

## مدد ګاز د بېړني وضعیت اداره

SGN ستاسو په سیمه کې د ملي ګاز د بېړني وضعیت اضطراري ځواب وړاندې کوي. که چېرې تاسو د ګاز د وتو یا د کاربن مونو اوکسایډ د اندېښنو په اړه راپور ورکړئ، د هغوی انجنیران 24 ساعته خدمات وړاندې کوي او سیمې ته ځان رسوي ترڅو وضعیت خوندي کړي.

### د ګاز د بوی په صورت کې، شیږ لاندې مرحلې تعقیب کړئ:

| | |
|---|---|
| ✓ د ګاز د وتو په موخه کړکۍ او دروازې پرانېستې پرېږدئ | ✗ سګرټ مه څکوئ او له څرګندو لمبو څخه استفاده مه کوئ |
| ✓ په مېټر کې ګازي وسیله ګل کړئ او ډاډ حاصل کړئ چې هر ډول ګازي وسایل ګل دي | ✗ برېښنایي سوېچونه مه لمس کوئ. د سویچ ګلول او بلول کېدی ش د ګاز د لیک کېدو لامل شي |
| ✓ د ګاز ملي اداري ته په **0800 111 999** شمېره زنګ ووهئ. تلفوني کرښې په ورځ کې 24 ساعته، **365** ورځې په کال کې فعالې دي | ✗ زېرخانې ته مه ننه کېږئ حتی که چېرې ستاسو د ګاز مېټر په زېرخانه کې وي |

SGN
Your gas. Our network.

همکاري کوونکي

DORSET & WILTSHIRE
FIRE AND RESCUE